مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۳/۰۱/۱۴

# غزل

زه به درځم چې په ارغند کې زرغونې وي ونې
په انــارګل کې چــې د سـرومـیو پیالې وي ونې
چې ستنې سوي په سپلونو وي پـردېسي مـرغۍ
چې د پیـغلوتـو پــه تــالـونـو ښایستـې وي ونې
چې د سپوږمۍ په شپه له لـیرې یکه زار اورمه
چې په نسیم کې غــوړېدلـې شـګوفې وي ونې
یو ځلې بیا کړي مځکه مسته د زلـمیو پایکوب
او په ګلڅانګو کې لـه تـاکـه پیـمانــې وي ونې
زما له تندې زمـا لــه قسمته بـه خزان وي تللی
د پسرلیـــو لـــه سبـا بــه تــرانــې وي ونــې
زه بــه درځـــم د تـوتــکـیـو لــه سپلونو سره
چې د بادام له شګوفو مې تکې سرې وي ونې
چې نه غضب د محتسب وي نه ډُره د وحشت
چې شاهدانې مې د شیــخ د جنــازې وي ونې
له جهاني ښخــه بــه اورو یـــو کتــاب غــزلې
پر چنارونو به یې کښلې قــصیــدې وي ونې.

د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر یوولسمه، ویرجینیا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ